مجلەی علمی-تحقیقی حوزەی علوم
طبیعی پوهنتون کابل، ۱ (٤) ۱٤۰۰

# د جنجړ (خاکشیر) د تولید مناسب چاپریال ارزونه

پوهاند گل احمد ظاهریان[۶]

تقریظ ورکوونکی: پوهاند مسعود سعید

**لنډیز**

د جنجړ بوټی په ډیرو درملنو او خوړلو کی استعمالیږی. دا بوټی په ډیرو سیمو لکه سړی سیمی، دښتی، د لوړ ارتفاع دښتی، ځنگلی سیمی، لوړی غرونه، د غرو لمنونه، گرمو دښتونه او وچی استوائی سیمی، گرمی سیمی، د سړکونو پرخنډو، ټیټو ځمکو، د څړ ځاینو، کرنیزو ځمکو او پخوانی کرنیز سیموکی چی د ضروری خوراکی عناصرو څخه بډای، ریگی او یا په شگه لرونکی خاورو کی وده کوی. د خاکشیر تخم د باد، څارویو، انسانانو، الوتنکو دخوراك په واسط او یا وروسته د تماس څخه نښلی او بلی سیمی ته انتقالیږی او خپاره کیږی. خاکشیر په خپل عمده ترکیب کی تیزابی شحمونه لری، پاڼی، تنه اوریښی ئی اولیك (oleic acid)، لینولینیك (linolenic)، لینولیك (linoleic acid) او پالمتیك (palmitic acid) تیزابونه لری. د دی بوټو د گلانو او پاڼو څخه د ویټامین سی د لړوالی د پوره کولو او قبضیت لپاره گټه اخستل کیږی.

کلیدی اصطلاحات: جنجړ؛ دښتی؛ څړځایونه؛ لگیدل؛ چاپریال؛ تند؛ خواږه یز توکی

# Flixweed  Production Optimum Research

Professor Gul Ahmad Zahiryan

## Abstract

Flixweed (D. Sophia) has serveral medicinal and edible uses. Flixweed grows in a wide range of environments: from cold desert, tundra, taiga, alpine, and subalpine ecosystems to hot desert and dry-tropical, open, warm, on roadsides, waste grounds, pastures, cultivated areas, and old fields, nutrient-rich sandy or stony soils. Flixweed seeds are spread by wind, animals, and man. Mucilaginous seeds may become attached to the feathers of birds feeding in infested areas and are moved into new areas by preening. Flixweed major composition such as  fatty acid, composition yielded from the leaves, stems, and roots were oleic acid, linolenic acid, linoleic acid, and palmitic acid. The flowers and the leaves are antiscorbutic and astringent.

Keywords: Flixweed; Desert; Pastures; Burns; Environments; Pungent; Nutrient

**ارجاع**

ظاهریان، گل احمد. (۱٤۰۰). د جنجړ (خاکشیر) د تولید مناسب چاپریال ارزونه. مجلەی علمی-تحقیقی حوزەی علوم طبیعی پوهنتون کابل، شماره ۱ (٤)، صص ۵۷ - ۶۹

[۶] استاد پوهنځی زراعت، پوهنتون کابل

**سریزه**

د جنجړ (Flix weed یا Fluxweed) د بوټي علمي نوم (Descurainia sophia) او د شبوع (Brassicaceae) یا چلیپائیان او یا شرشم په کورنی پوری اړه لری. خاکشیر یوکلن او یا دوه کلن واښه ایز بوټی دی. د خاکشیر بوټی په دښتو، غرنیوسیمو، د جادو پر څنډو، دکورونو په چاپریال او غیر کرنیز ځمکو کی چی نسبتاً لنده وی په خپل سر وده کوی. د دی بوټی لوړوالی تر یوه مترو پوری رسیږی. د بوټی ټیټه برخه پت لری او پاسنی برخه ئی صافه ده، ځینی وختونه ټول بوټی صاف وی. د بوټی پاسنی برخه په ښاخونو باندی ویشل شوی دی.

د بوټی پاڼی ۲-۳ واره ژور برخی باندی ویشل شوی دی او ځینی وختونه تار غوندی شکل غوره کوی. د دی بوټی گلان روښانه ژیړ رنگ لری. میوی د پولی یا د کځونی په ډول نری ده چی اوږدوالی ئی د ۱۵-۳۵ ملی‌مترو پوری رسیږی کوم چی د تنی په اخرنی برخه کی په عمودی ډول تولیدیږی. د میوی تخمونه ئی ډیرکوچنی، نارنجی او یا قهوه‌ای رنګ ته ورته، بیضوی شکل لری چی په ترتیب سره په پولی کی موقیعت لری. د خاکشیر تخم چی په درملنی کی کارول کیږی د میوی د پخیدلو څخه وروسته باید ټول شی. د خاکشیر تخم کوچنی او لږ اوږد، معمولاً په دو رنگونو لیدل کیږی. یوئی کوچنی، رنگ‌ئی سور ته ورته او خوندئی یو څه تریخ دی، او بل‌ئی غټتره، رنگ‌ئی خټه سور دی، دا دواړه په طبیعی ډول وده کوی. د یادونی وړ ده چی دوه ډوله نورو بوټو ته هم خاکشیر ویل کیږی چی دیو علمی نوم (Sisymbrium irio) او د بل (Erysimum repandum) دی، دواړه یو کلن بوټی دی، چی د دواړو څخه د خاکشیر د بوټی د ځانګړتیا په درلودلو یو ډول کار تری اخستل کیږی، شتون لری (۴).



لمړی انځور: د خاکشیر بوټی لیدل کیږی (http://www.fs.fed.us/)

## تاریخچه

خاکشـیر (D. sophia) د شرشـم په کورنی (Cruciferae او یا mustard family) پوری اړه لری. دا کورنی ۳۸۰ جینس او ۳۰۰۰ سپیشزونه لری. خاکشیر یا Flixweed د درملنی وابنه ای بوټی دی، چی د سـلاد، سـبو، غوړ، دڅارویو خوراک، درملو او د باغ د مشـهورو خوشـبوع بوټو سره وده کوی. د خاکشیر دانی د درملو د استفادی برخه بلل کیږی. د دی بوټی اصلی ټاټوبی اروپا، معتدل آسیا سیمی دی، د دی ډلی څخه مهم هیوادونه لکه ایران، عراق، پاکستان، افغانستان، چین، هند، د افریقا شمالی برخه لکه مصر، مراکش او الجزیره بلل کیږی. بر سـیره پردی نوری سـیمو ته غځیدلی دی لکه افریقا، البانیا، الجیریا، اسـترلیا، ازاربایجان، روسـیه، بلغاریا، کاناډا، اسرائیل، جاپان، قزاقسـتان، کوریا، قرغزستان، لبنان، منگولیا، نیپال، مراکو، شمالی امریکا، سایبریا، جنوبی امریکا، تاجکستان، سوریه، تورکیه، ترکمنستان، ازبکستان او داسی نور (۳).

## د جنجړ نومونه

جنجړ چی په دری کی ورته خاکشیر وای اصلاً دا بوټی خاکشی دی اما د خلکو ترمنځ په اشتبای نوم خاکشیر باندی شـهرت مندلی دی. دا بوټی په بیـلابیـلو سیمو کی توپیر لرونکی نومونه لـری. په انگلیسـی کی د بوټی نوم (flixweed)، په هسـپانوی کی د بوټی نوم (ajenjo loco)، په چینای کی د بوټی نوم (boniang hao)، په ایتالـوی (erba Sofia) او په انگلسـتان کی ورتـه (piblys) وائی. په ترکی ژبه کی د «شیوران» په نامه، په عـربی ژبه کی د «خـبه» او «بذرالخمخم» په نامه، په فرانسوی ژبه کی (Velar sagesse او یا descurainie sagesse) په نامه، په المانی ژبه کی (Sophienkraut) په نامه یادیږی (۲).

## پاڼی

د خاکشیر پاڼی متناوب او لکی لرونکی دی. د خاکشیر بوټی وابنه ایزه یوه کلن او یا دوه کلن راسته وده لری. پاڼی پر عمده تنه باندی په متناوب ډول د ګلانو تر تنی پوری یوه کلنه او یا په دو کالو کی یو ځل تولیدیږی. په خپله دوره کی ۸ انچه اوږدوالی او ۴ انچه پسـور په ترتیب سره پر تنی باندی کوچنی کیږی. د اساسی او لاندنی پاڼی ئی اوږده لکی لری، او پاسنی پاڼو لکی ئی لنډی دی. د تنی د پاسه د ګل وږی د ۲-۱۲ انچه اوږدوالی لری. د بوټی د پاڼو څنډی ۲-۳ ځله ژوری پری شوی دی، نری اوځینی وقتونه تار غوندی شـوی دی. چی خړ او یا زرغون ابی ډوله رنګ لری، چی په پای کی رسیږی، ستوری ډوله ویښتیان لری او په بشپړه ډول اوږده دی (۱).

## د بوټي ګل

د جنجړ تخم د پسـرلي په لمړيو ورځو کې ټوکیدنه کوي او د جوزا په میاشـت کې ګلان تولیدوی. د ګلانو موده د پسرلي د پای څخه د دوبي تر نیمائي پوري ده، د دو میا شتو په موده کې منځ ته راځي. د دی میوه په دوبي او یا د منی په پیل کې پخیږی. د ژمي څخه ورو سته د ثور په میا شت کی د ګلانو تولید پیل کیږی. د دی بوټي ګلان معمولاً د شعاع ډول لري، صـاف شـین ډوله ژیړ رنګ لري، چی پسـور ئی نیم سـانتي‌متر، ۴ نری ګل پاڼی چی اوږدوالی ئی ۱، ۲ - ۵ ملي‌متر، ۴ شـنی سـاتونکی پاڼی معمولآ اوږدوالی ئی لکه ګل پاڼي په ډول دی، د نارینه الی شمیرئی ٦ چی ۴ اوږده او ۲ لنډ ژیړ رنګ لرونکی انتر لري. ښـځینه الي یو کارپله، یو واحد سـتایل لري. د خاکشـیر ګل بشـپړه یعنی نارینه او ښـځینه دواړه الي لري، ګلان ئی په خپله ګرده القاح کیږی (۳). مچی او پتنګان ګلان ګرده افشـانی کوی، ګلپاڼي ئی شیره لری تر څو د مچی او پتنګانو د پام وړ وګرځی (۳). د جنجړ ګلان په بیلګه ایزه توګه یو د بل سره د پت او ګلپاڼي د اوږدوالي په اساس توپیر لري. هر ګل په یوه پولی باندی تبدیلیږی چی اوږدوالی ئی تر ۵،۲ سانتي‌مترو پوری رسیږی. دا پولی نری او سلندر ډوله (قطر ئی یوه ملي‌متر) او د ۱۰-۲۰ پوری کوچنی تخمونه په پولی کی په یوه قطار کی شـتون لري. د ګل تنه (د پولی لاندنی برخه) د نیم انچ په اندازه اوږدوالی لري. ټولی پولی د ګل د تنو سره یو وړی جوړوی. د ګلانو وړی د پا سنی څخه کښته خواته د سلندر په ډول پراختیا موندلی دی او اوږدوالی ئی ۵-۳۰ سانتي‌مترو پوری ر سیږی. هر بوټي په نورمال ډول د ۷۵-٦۵۰ تخمونه تولیدوی (۸). هر تخم صاف او نسبتاً اوږده سره نارینجی نصواری ډوله ده. تخمونه د باد پواسط هری خواته خپاره کیږی.



دوهم انځور: د جنجړ د بوټي ګلان او میوی ښودلی دی (http://www.fs.fed.us/)

**تنه**

د بوټي تنه خړې ته ورته او یا زرغون آبی ته ورته او رسیدلی رنګونه لري. د تنې پاسنی برخه قوی ویښتیان او کښتنی برخی شعاع لرونکی ویښتیان لري. ځینی وختونه د تنې کښتنی برخه نږدی صافه او روښانه زرغون بنفش رنګ لري. د تنې جګوالی ئی د ۳۰-۸۰ سانتی‌مترو (کله یوه متر) ته رسیږي.

**میوی**

د تنې په پای کی د ګلانو وږی په ګڼ ډول موقعیت لري، پولی سلنډر ډوله دی، د تنې په پاسنی برخه کی شتون لري. د ګلانووږی د بوټي د جګوالی نیمای برخه تشکیلوی. میوی د پولی او یا دکځونی په ډول نری ده چی اوږدوالی‌ئی د ۱۵-۳۵ ملی‌مترو پوری رسیږي د تنې په اخرنی برخه‌کی په عمودی ډول تولیدیږي. د میوی تخمونه ډیر کوچنی د نارنجی او یا قهوه ای ته ورته بیضوی شکل لري، چی په‌ترتیب سره په‌پولی کی موقعیت لري. د بوټي میوه‌ئی وروسته له وچیدو څخه چوی تخمونه ځینی جلا کیږي. په یوه بوټي کی د ۷۵-٦۵۰ تخمونه تولیدیږي. لوی بوټي تر ۷۰۰۰۰۰ دانی تولیدولی شي (۴).

**نیله**

د جنجر د بوټي د نیلی سیستم غښتلی او عمودی په ځمکه کی ښه ژور ننوځي.

**د بوټي خپریدل**

د جنجر د بوټي تخمونه د باد، اوبو، ماشینری او څارویو، انسانان او الوتنکی پواسطه هری خواته خپاره کیږي. زیادتره تخمونه د مورنی بوټي پر شاو خوا خپاره کیږي. خپاره شوی تخمونه د ژمی په پای کی ټوکیدنه کوی دا تخمونه د غله جاتو او واښو سره هم لیږدول کیږي.

**خوراکی ارزښت**

په عمده ډول په دی بوټي کی ۵،۲۷ ګرامه پروټین، ۳۳ ګرامه غوړاو ۷،۳ ګرامه اضافی مواد لري. د دی بوټي د استفادی برخه دانه دی، ځینی وقتونه د پاڼی او ګلداره تنې څخه استفاده کیږي. د جنجر دانی یو شمیر د غوړ تیزابونه لکه لینوئیک (linoleic acid)، لینولنیک (linolenic acid)، اولئیک ( oleic acid)، پالمتیک (palmitic acid) او ستئاریک (stearic acid) او داسی نور لري. برسیره پردی اړین غوړپه کښی هم شتون لري کوم چی پروپنیل ایزوسیانات (propenyl-isothiocyanate) لرونکی دی. د جنجر په دانو کی مهمترین ترکیبونه لکه ګلوکوز، اینولایتونه دی کوم چی آلیل ایزوتیوسیانات، بوتنیل ایزوتیوسیانات، سیانو ۳ و ٤- اپي تیو بوتان، ۵- میتایل تیوپنتانیتریل، ۳- فنیل پروپیونیتریل، ٤- میتایل تیوبوتیل ایزوتیوسیانات او ۲- فینایل اتیل ایزوتیوسیانات شتون لري. د جنجر په دانو کی معدنی مواد

لکه گوگرد، کلور، فاسفورس، اوسپنه، پتاسیم، کلسیم، سودیم او منگنیزیم لری برسیره پر دی پروتین، رزین، غوړ او د نایتروجنداره ترکیبات شتون لری. د جنجر بوټی زهری دی، دڅاروی د خوراک لپاره خوندور نه بلل کیږی. د بوټی ټول برخی زهری دی، پاڼی نایتریت لری. د جنجر د تخم زهریت لکه ایزو هلیل تایوسیانایت (isoallyl thiocyanates) او اریتنت غوړ (irritant oils) لری. د بوټی ډیر مصرفول د اوږدی مودی لپاره د زهریت په درلودلو څاروی له منځه وړی (۵).

**د جنجر استعمال**

جنجر به سړو اوبو کی پریښودل شی تر څو ښه خشته شی او وروسته وخوړل شی، او کولای شو چی لس دقیقی ویشول شی او وروسته په درملنی کی ګټه واخستل شی. د جنجر شربت د ګرمی وهلو او په دوبی کی د بدن د ساړه کولو لپاره استعمالیږی، دا د هغه خوراکی ډلی څخه شمیرل کیږی چی تنده ورکوی. د افغانستان خلک د پخوا څخه تر اوسه د دی بوټی سره اشنای لری، په کلیو او بانډو کی استعمالیږی. په دی حالت کی لمړی د جنجر دانی ښې ومنځل شی وروسته د سړو اوبو سره وخوړل شی، د جنجر ښه کیفیت په دی حالت کی د صفرا درملنه دی.

که چیری جنجر د ناروغی په لمړی شیبو کی استعمال شی ناروغ په بشپړه توګه روغ شی او که چیری ناروغی پرمخ تللی وی د ناروغی مخنیوی کوی، اما ځینی وقتونه په بشپړه توګه درملنه کیږی. جنجر په نارینو کی د جنسی کمزورتیا چی په بدن کی د ډیر سوډا څخه وی درملنه کوی او په ښځینه کی د رحم ترشحات چی په بدن کی د ډیر سوډا پخاطر وی درملنه کیږی.

د جنجر شربت خصوصآ د دوبی په ګرمو ورځو کی فوق العاده ګټور بلل کیږی، او حتی د ما شومانو (تر ۳ کلن پورته) لپاره هیڅ ډول تاوان نلری. د هغه ماشومانو لپاره چی عمر ئی تر ۳ کلنی ټیټ وی د جنجر شربت صاف شی او تنها اوبه ئی باید ورکړل شی. د جنجر دانی ډیری وړی دی، ورسره ریګ او خاوره ګډیږی ښه به داوی چی په اوبو کی د یوی مودی لپاره خشته شی. د جنجر د استعمال لپاره چی په یواځی او یا د نورو درملو سره یو ځای وی، ښه وقت سهار دی چی اینه تقویه کوی او معده د هر ډول زهریت څخه پاکوی. د جنجر استعمال د ناروغی د اندازی په اساس د ورځی ۲-۳ ځلی سپارښتنه کیږی.

جنجر د سر پخه لږوی او که چیری د ویښتانو رژیدل د سر د پخی له امله وی ګټور بلل کیږی. د جنجر شربت اضافی بلغم لیری کوی او ښه احساس پیدا کیږی. ممکن لږ تره خلک د متیازی د مجرا د التهاب او پښتورګی په هکله اوریدلی وی او په دی حالت کی د ۴-۵ ګیلاس د جنجر شربتو چښل ډیر ګټور بلل شوی دی. دا بوټی د الرژی لپاره ډیر ښه درمل دی، د خوراکی حساسیت لپاره نیم

ساعت مخ کی له ډوډی څخه باید وخوړل شی ستونزه لیری کولای شی. د جنجر دود چی د سوزولو څخه په لاس راځی د ضد عفونی او د غا ښونو د درد د کرارولو لپاره ا ستفاده کیږی او حتی زخمونه چی عفونی وی ګټه پورته کولای شی.

د تنفسی سیستم د التهاب درملنه کوی ځکه چی د کلسیم او منګنیزیم ډیره اندازه شتون لری او د سرطان د ودی مخه نیسی، د جنجر د پاڼی او ګلانو څخه د بدن د ویټامین سی د لړوالی ستونزه حل شی. جنجر د بواسیر او واریس ښه درمل ګڼل کیږی.

جنجر د بدن پوست ملایموی پرته له دی چی چاق شی د بدن په سطح کی د غوړ پرده جوړوی. جنجر د زکام په وقت کی د پزی ترشحات او د سر درد لړوی. جنجر ډیر فایبر لری چی د کولمو په حرکاتو کی مرسته کوی (۶).

**خاوره**

د جنجر بوټی په دښتی، غرنیو سیمو، د جادو پر څنډو، د اوسیدو د ځایو چاپیره، دیوالونو، د غواګانو په استون ځای، بندرونو، د پټلی پر لیکو، د غله جاتو په فارمو، باغونو، کرنیز او غیرکرنیز سیمو کی چی نسبتاً لانده وی په خپل سر وده کوی. د جنجر بوټی په نیمه سیوری (تر ونولاندی او ځنګلی سیمو کی) او یا پرته له سیوری وده کولای شی. د جنجر بوټی په توپیر لرونکی خاورو په درلودلو لکه د لوم، سلت، کلی او ریګ سره مقاومت لری (۳). دا بوټی لندبل ته ترجیح ورکوی او د وچو خاورو سره مقاومت لری، اما د مالګنی خاورو سره مقاومت نلری. د جنجر بوټی په اوبه ویستل شوی (زهکښی) خاورو کی ډیر لیدل کیږی، د کلسیم کاربونیت ($CaCO_3$) څخه بډای او یا د عضوی موادو څخه ضعیف خاور کی هم وده کوی. دا بوټی په ټولو تیزابی او القلی خاورو کی وده کوی. دا بوټی په مالګینو دښتونو کی چی نور بوټی شتون ولری وده کوی (۷).

**طبیعی عوامل**

د چاپریال مهم عوامل چی د جنجر د بوټو پر ودی باندی ګټمن اغیزی لری لکه رڼا، تودوخه، اوبونه، دځای ارتفاع، خاوره، د ژوندی او غیر ژوندی ژوی شتون دی. برسیره د نورو کرنیز محصولاتو څخه د جنجر د بوټو کیفیت تر کمیت مهمتر او اړین بلل کیږی. نو ځکه د جنجر د بوټو دلوړ کیفیت تر لا سه کولو لپاره د ګټمن عواملو پوهیدل ډیر اړین دی. د جنجر د بوټو د کرلو د بریا لپاره د چاپریال، بوټی او کرنیز عواملو پیژندل ډیر مهم بلل کیږی.

## رڼا

د رڼا د مختلفو ځانګړتیا (د رڼا کمیت، کیفیت او د مودی اوږدوالی) د جنجرړ بوټو میتابولیکی تولید سره نږدی تړاو لری. کیفیت او یا د رڼا د موج اوږدوالی ډیر اړین دی، چی په ترکیب ضیائی کی مهم رول لری، رڼا د ځینو تخمونو په ټوکیدنه کی مهم رول لری. د رڼا او تیاره تناوب د بوټی پر تولید مهم رول لری. د جنجرړ بوټی په میتابولکی فعالیتونو کی د رڼا د حالت سره تغیر خوری. رڼا د درملو په تولید کی مهم او بنستیز رول لری. د بوټو اړتیا د رڼا په اندازه توپیر لری او د رڼا کیفیت، شدت چی هر یو ئی په بیله توګه پر میتابولیکی فعالیتونو باندی اغیزی لری مهم بلل کیږی. رڼا د کلوروفیل د جوړښت او فوتوسنتیز تر سره کولو لپاره په بوټی کی اړین دی. بوټی د رڼا په درلودلو د کاربن او اوبو په استفاده کاربوهایدرید جوړوی (۸).

## تودوخه

تودوخه د جنجرړ په بوټی کی د ودی او میتابولیزم د کنترل مهم عامل بلل کیږی. ډیر طبی او عطری بوټی هغه وقت چی د خپل ا صلی ټاټوبی څخه بل ځای ته یووړل شی د توافق په خاطر د خپل ودی په عادت کی تغیر راولی. زیادتره بوټی د تودوخی د سانتی‌ګراد صفر درجه زغمی، اما تودوخه د بوټو پر وده بنستیز اغیزی لری، چی کولای شی وده ته پراختیا ورکړی او یا ودروی او حتی د مړنی باعث شی. د تودوخی د اندازه پیژندنه د کښت او روزنی سره مرسته کوی (۵).

## د جنجرړ د بوټی کرنه

د جنجرړ بوټی چی په باغونو کی په خپل سر شنه کیږی، د ښوالی په ا ساس ا ضافی بوټی بلل شوی د ریښی څخه له منځه وړی او هم د څاروی د خوراك لپاره په زړه پوری ښکاری او د دایمی وا ښو په توګه نه بلل کیږی. د جنجرړ تخم د ټوکیدنی لپاره تر دری کالو ساتل کیږی. وروسته له ژمی څخه د بوټو ډیر ګڼوالی جوړوی په دی خاطر چی په پسرلی کی پرته له دی چی تخم وشندل شی لندبل شتون ولری نور بوټی تکرار را شنه کیږی. په پسرلی کی نور بوټی خصوصا درانه بوټی په اسانی سره د جنجرړ د بوټی سره سیالی نشی کولای. جنجرړ څوکلن واښه ایزه بوټو سره ډیری ستونزی منځته راوړی.

د جنجرړ بوټی د بشپړه لمر په شتون، نږدی په هر ډول خاورو کی د منځنی لندبل څخه تر وچ حالت پوری ګلان تولیدوی. په حاصل‌خیزه لومی خاوری کی ډیر غښتلی ښاخونه تولیدوی او په وچو غیر کرنیزو ځمکو کی چی ریګ او ډبری ولری ورته وده کوی. په وچی او ګرمی هوا کی د بوټی لاندنی پاڼی ممکن مړاوی شی.

د جنجر د تخم د ټوکیدنی لپاره ځینی ټکی باید په نظــر کی ونیول شــی، هغه وقت چی تخــم لوند شی د هر شـــی سره چی تماس وکړی ټینګ مښلی بیرته نه لیری کیږی. د دی تخــم ښه والی په دی کی دی چی ۵ -۶ ورځی د ټوکیدنی لپاره کفایت کوی. د جنجر تخم ښــه ټوکیدنه د ۷۰ ســلنه په شاوخوا کی ده (۶).

د جنجر تکثیر او کرنه د تخم پواســط د پســرلی او منی په موســم کی ترسره کیږی. پاخه تخمونه په سپکه او نسبتاً لنده ځمکی کی وشندل شی. د تخم د شندلو پر وقت د تخمونو ترمنځ واټن باید په نظر کی ونیول شــی. وروســته له ودی څخه د بوټو رنګی کولو پواســطه واټن تنظیمیږی. بوټی وروســته له پخیدو څخه باید ټول کړی، د جنجر دانی د وچولو لپاره په طبی ډول په ســیوری او یا په ســاتن ځای کی چی هوا جریان ولری وچ شی. په مصنوعی ډول د جنجر تخمونه د سانتی‌گراد په ۴۰-۵۰ درجی کی وچ شی.

**د بوټی د ژوند دوره**

د جنجر بوټی یو کلن او ځینی وختو نه دوه کلن وی، دا بوټی د تخم څخه تولیدیږی. د دی تخم ټوکیدنه معمولاً په ژمی او یا د پسرلی په لمړیو کی تر سره کیږی. دا بوټی د لوړوالی په اساس د پسرلی په موسم کی تر ټولو دمخه ښکاره کیږی.

**اوبونه**

په عمومی ډول د جنجر بوټی د خپل ودی لپاره لږ اوبو ته اړه لری. د اضـافی واښـو مخنیوی، اضـافی وا ښه د لاس پوا سط کنترل کیدای شی. بوټی د تخم په وخت کی ولګول شی تخمونه له منځه ځی، ښه نتیجه ورکوی (۱). د کیمیاوی کنترل د رنداف (Glyphosate) او 2,4-D او یا نورو وا ښه وژونکی پواسط تر سره کیدای شی (۳).

**حاصل ټولول**

د حاصل ټولولو څخه وروسته په طبیعی ډول په سیوری کی چی د هوا جریان ولری باید وچ شی او یا په مصـنوعی ډول د تودوخی د سـانتی‌گراد د ۴۰ څخه تر ۵۰ درجه کی تر سره شـی. د جنجر حاصـل ټولول د لاس او ماشین پواسط تر سره کیدای شی. د جنجر تخم مخکی له دی چی پوست (غلافونه) په بشـپړه ډول وچ شـیرا ټول کړل شـی. جنجر ۵۰۰-۷۰۰ کیلو گرامه په هر هکتار ځمکه کی حاصـل ورکوی (۸).



دریم انځور: د جنجرو د بوټي تخم (http://www.fs.fed.us/)

**زیرمه**

۱. د جنجرو دانی په سر تړلی لوښی چی د رڼا، تودوخه او لندبل څخه لیری وی باید وساتل شي.

۲. خلک ځینی وختونه د نورو بوټو تخمونه چی د جنجرو تخم ته ورته دی، د دی پر ځای د ا شتباه په ډول ګټه بورته کوی، ځکه باید د تخم رنګ، اندازه او شکل ته ښه پاملرنه وشی.

**د بوټي د درملنی خواص**

د جنجرو کوچنی او قهوه‌ای (قرمز) رنګ تخم د دودیزی درملنی په اســاس ګرم او لند دی، دومره د درملنی ګټه لری چه انســان ورته حیران پاته کیږی. د جنجرو دانی پرته له دی چی تاوان ولری د وخت او حالت په اساس پر بدن توپیر لرونکی اغیزی لری. د جنجرو مصرف د سهار لخوا په ساړه او یا جوش اوبو کی د بوره او پرته له بوره، مخکی او یا وروســته د خوړو په واټن او یا دفعتاً، حتی شــپی او یا ورځی د استفادی پر اساس، توپیر لرونکی اغیزی لری.

د التهاب او باکتری ضــد، د بدن د ښــو د لیری کولو، په مناســب اندازه امیندوارو ښــځو ته ګټور، د ډنګری او وزن ډیرول، د آواز جوړول، د اســهال ورکول، د شری درملنه، د کوی درملنه، د مخملک درملنه، د وینی د فشار کنترل ، تنده ورکوی ،د ځګر غوړوالی ورکوی، د سرطان د ودی مخه نیسی، د ویټامین سی لړوالی ډشپږه کوی، پو ست سالم ساتی او د وجود بخار له منځه وړی، د پښتیورګی د ډبری لیری کول، د خولی د خراب بوی لیری کول، د لمروهنی مخنیوی تر سره کوی، د زخم جوړول، معده غښتلی کوی، د پرسوب ورکولو لپاره د جنجرو دانی میده او د مرحم په ډول ا ستفاده شي. جنجرو د هاضمی سیستم سره مرسته او ستونزی لیری کوی، د سر پوخی لړوی

جنجر د پخوا څخه د اشـــتها آور، د معدی غښـــتلی کیدل، د تبی درملنی او هاضـــمی ســـتونزو لپاره استعمالیږی. په پخوانی وقتونو کی د وینی اسهال لپاره استعمالیده، د طبی درملو د بوټو متخصصین د Sophia chirugorum په نامه یعنی (عقل جراحان) یادیدل. د جنجر تخم په دودیز طبابت کی د اســـهال درملنی، د متیازو ډیرول، د تبی لیری کول، د پښـــتورگی د التهاب لیری کول، د چنجی لیری کول د ایشولو په ډول استفاده کیږی. په ډیرو ځایو کی د جنجر تخم د سړه اوبو سره گډول او وروسته د بدن د ساړه کولو لپاره استعمالیده.

د فارموکولوجی څیړنی د جنجر په هکله څو خاصـــیتونه ئی ښـــودلی دی چی: د جنجر د تخم پر مخ شـیره او موسـیلاژ د اوبو په جذبولو پړسـیږی او ډیر حجم اخلی چی د ملایم کیدو خاصـیت لری، د کلمو څخه مواد په ا سانی سره با سی او ستونزه حلوی. د تخم ایزوتیو سیانات د مکروب ضد خواص لری پدی خاطر د بدن څخه تبه ورکوی. له بلی خوا د بدن تودوخه په تائیروئید هارمون پوری اړه لری، ممکن د تیروکسین او میتابولیزم د تولید او ترشح په لړوالی د بدن تودوخه ټیټه شی. د جنجر نور خواصونه په لاندی ډول دی (۸):

**د جنجر تاوانونه**

- هغه کسان چی د معدی زخم او یا پړسوب لری د جنجر مصرف دی لږ کړی؛
- هغه ماشومان چی عمر ئی تر دری کالو ټیټ وی باید ورنکړی، تنها د جنجر اوبه ورکړه شی؛
- د جنجر په مصرفولو ممکن د غایته موادو رنگ تورشی اما یو طبیعی حالت دی؛
- هغه کســان چی ســوړ حالت لری، د روماتیزم او ارتروز د ناروغی څخه رنج وړی د جنجر مصــرف دی لږ کړی او یا د عسل او د نعنا د اوبو سره گډ استعمال کړی؛
- ځینی خلک د جنجر په خوړلو د سر درد پیدا کوی، نو دا کســـان باید جنجر د گوند (کتیرا) سره وخوری؛
- ښځینه د امیدواری په وقت کی د جنجر په خوړلو کی احتیاط وکړی، ځکه ممکن سقط وکړی و
- د جنجر ډیر خوړل د اسهالی سبب کیږی.

**مارکیت**

د دی بوټی اصلی صادرونکی لکه ایران، هندوستان او پاکستان هیوادونه دی.

## پایلې

جنجر د افغانستان یو مهم طبي بوټی بلل کیږي. د خاکشیر تخم د بهر څخه افغانستان ته واردیږي در حالي چې په ټول هیواد کې په خپل سر وده کوي. د جنجر تولید په هیواد کې ډیر شي او نورو هیوادو ته صادر شي. د جنجر بوټي په توپیر لرونکو خاورو په درلودلو مقاومت لري. دا بوټي لندبل ته ترجیح ورکوي او د وچو خاورو سره مقاومت لري او د عضوي موادو په ضعیف خاور کې هم وده کوي. دا بوټي په ټولو تیزابي او القلي خاورو کې وده کوي. دا بوټي په مالګینو د ښتونو کرنیز او غیر کرنیز سیمو کې چې نسبتآ لانده وي په خپل سر وده کوي.

په عمده ډول د جنجر تخم پروټین، غوړاو اضافي مواد لري. د دې بوټي د استفادې برخه دانه دی، ځینې وقتونه د پاڼې او ګلداره تنې څخه استفاده‌کیږي. دجنجر دانې یوشمیر دغوړ تیزابونه لري. برسیره پردې اړین غورپه‌کښې هم شتون لري، کوم‌چې پروپنیل ایزوسیانات (propenyl-isothiocyanate) لرونکې دی. د جنجر شربت د ګرمۍ وهلو او په دوبي کې د بدن د ساړه کولو لپاره استعمالیږي، دا د هغه خوراکي ډلې څخه شمیرل کیږي چې تنده ورکوي. د افغانستان خلك د پخوا څخه تر اوسه د دې بوټي سره اشنای لري، په کلیو او بانډو کې استعمالیږي. د جنجر شربت خصوصآ د دوبي په ګرمو ورځو کې فوق‌العاده ګټور بلل‌کیږي، او حتی د ماشومانو (تر۳کلن پورته) لپاره هیڅ ډول تاوان نلري.د جنجر په دانو کې معدني مواد لکه ګوګرد، کلور، فاسفورس، اوسپنه، پتاسیم، کلسیم، سودیم او منګنیزیم لري بر سیره پر دې رزین او د نایتروجنداره ترکیبات شتون لري. د جنجر بوټي زهري دی، د څاروی د خوراك لپاره خوندور نه بلل‌کیږي. د بوټي ټول برخې زهري دي، پاڼې نایتریت لري. د بوټي ډیر مصرفول د اوږدې مودې لپاره د زهریت په درلودلو څاروی له منځه وړي.

جنجر په درملنې کې اینه تقویه کوي او معده د هر ډول زهریت څخه پاکوي. د جنجر شربتو چښل د سر پوخه، د ویښتانو رژیدل لږوي، د متیازې د مجرا د التهاب او پښتورګي، الرژې، د تنفسي سیستم د التهاب درملنه کوي، بواسیر او واریس، د سرطان د ودې مخه نیسي ډیر ګټور بلل شوي دي.

## وړاندیزونه

۱. د جنجر بوټي د طبیعي حالت څخه کرنیز حالت ته واړول شي؛

۲. کروندګرو ته د جنجر په هکله پوهه ورکړه شي؛

۳. په افغانستان کې د جنجر کرلو ته پراختیا ورکړه شي؛

۴. د جنجر واردات لږ شي؛

۵. د جنجر د صادراتو په هکله څیړنه تر سره شي.

## منابع


(1) Best, K. F. The biology of Canadian weeds. 22. Descurainia Sophia (L.) Webb. Can. J. Plant Sci. 1977; 57, pp. 499-507.

(2) Hickey M; King CJ, 100 families of flowering plants. Cambridge, UK: Cambridge University Press. 1981. P. 567.

(3) Howard, Janet L. Descurainia sophia. In: Fire Effects Information System, (Online). U.S. Department of Agriculture, Forest Service, Rocky Mountain Research Station, Fire Sciences Laboratory (Producer). 2003.

(4) LARRY W. MITICH2, Flixweed (Descurainia sophia). 1996; Volume l0. Pp. 974-977.

(5) Pfeiffer H, Development of plant communities on the rubble of bombed cities. Vegetatio. 1957; 7 (5/6). pp. 301-320.

(6) Salisbury, E. J. Weeds and Aliens. Macmillan Co., New York. 1961; p. 330.

(7) Skougard M; Brotherson JD, Vegetational response to three environmental gradients in the salt playa near Goshen, Utah County, Utah. Great Basin Naturalist. 1979; 39 (1), pp. 44-58.

(8) University of Alaska Anchorage, Flixweed. Descurainia sophia (L.) Webb ex Prant. Alaska, USA: Alaska Natural Heritage Program, University of Alaska. 2011.